EUROPEAN UNION

د افغانستان
د څېړنې او
ارزونې اداره

څېړنه د ښه افغانستان لپاره

AREU

*د ارزونې لنډ راپور*



# کله چې اوبه وچیږي:

## کله چې د افغانستان په سویل لوېدیځه دښته کې اوبه وچیږي او د ۱.۵ میلیونه وګړو ژوند له خطر سره مخ کیږي، څه باید وشي؟


ډیویډ منسفیلد



غبرګولی ۱۳۹۹

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۲۴۱-۹۲-۹

لیکوال: ډیوېډ منسفیلد

د خپروني کوډ: ۲۰۱۰ پ

انځورونه: Alcis, OSDR, او دیوید منسفیلد



©۱۳۹۹ د افغانستان د څېړني او ارزوني اداره

دغه خپرونه کیدای شي یوائې د غیری سوداګریزو موخو لپاره نقل، او یا بیا ځلې چاپ شي په دی شرط چې لیکوال او منبع یې خبره شی. په یاده خپرونه کې ځای شوی نظرونه لیکوال پوری اړه لري او په حتمی ډول د افغانستان د څېړني او ارزوني اداری او اروپایې ټولنې نظرونه نه منعکوسوی که چیری دغه خپرونه بیاچاپ، ذخیره او یا بریښنایې بڼه یې لیږدول کیږی باید یو لینک یې د AREU کورپاڼې (www.areu.org.af ") ته واستول شي. او یا هم د بریښنالیک او یا هم ټلیفون شمیری له لیاری اړیکه ونیسئ ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۴.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څېړنو یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسۍ پورې اړوند څېړنو برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو خپرول او همدارنګه د شواهدو پر بنسټ د څېړنو او زده کړې د کلتور خپرول دي. د افغانستان د څېړنی او ارزونی اداره دیوی غیرانتفاعی اداری په توګه د اقتصاد په وزارت کی ثبت شوی ده. د پنسیلوانیا پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د یو څېړنیز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکی ده او په منځنۍ آسیا کې د څېړنیزو بنسټونو په منځ کې په دریم مقام کې ځای لري. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د لاسته راوړلو لپاره د پالیسۍ جوړونکو، مدني ټولنو، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری له څېړنو او کتابتون څخه ګټه پورته او د څېړنې په برخه کې خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینې نوروسازمانونو، مدنې ټولنو او د خپلواکو کارپوهانو استازي پکې شامل دي، اداره کیږي.

په همدې ډول، دغه اداره په برېتانیا کې د پروسپیکټ (Magazine Prospect) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نیزې ادارې جایزه ګټونکې شوه.

**مالی مرسته کوونکې:**

د دې ادارې مالی مرسته کوونکې د سویډن نړیواله پراختیایي اداره (SIDA) او لاندې نور نړیوال بنسټونه دي:

European Union (EU), Global Challenges Research Fund (GCRF), Central Asia Regional Economic Cooperation Institute (CAREC), The Foundation to Promote Open Society (FPOS), The French Medical Institute for mother and children (FMIC), The Royal United Services Institute (RUSI), Institute for Integrated Transitions (IFIT), and UN Women.

**همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لری:**

RESOLVE Network, Global Challenges Research Fund (GCRF), Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB-Asian Think Tanks Network (ATTN) and The Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC). For more information visit www.areu.org.af

Prospect
Think Tank
Awards
WINNER
International • Social


## د لیکوال په اړه

ډیوډ منسفیلډ (David Mansfield) له **۲۰۰۵** میلادي کال راهیسې د افغانستان د څېړنې او ارزونې له ادارې سره د یو خپلواک سلاکار په توګه کار کوي. نوموړي په افغانستان کې د کلیوالي معیشت او د کوکنارو کښت په اړه په **۲۴**پرله پسې فصلونو کې څېړنه کړې ده. په يادې څېړنې کې د افغانستان په کلیوالي سیمو کې تر ۱۲،۰۰۰ زیاتې هراړخیزې کورنۍ مرکې شاملې دي. ښاغلی ډیوډ د لندن د ختیځ او افریقایي مطالعاتو له پوهنتون څخه د پرمختیایي زده کړو په څانګه کې دوکتورا لري. نوموړی د "پر شګو جوړ شوی دولت: څرنګه کوکنارو افغانستان کمزوری کړی دی" تر سرلیک لاندې د یو کتاب لیکوال دی او په افغانستان کې يې د مخدره توکو اقتصاد او کلیوالي معیشت په اړه **۷۵** څېړنیزې لیکنې کړې دي.

## سریزه:

په بکوا دښته کې یو بزګر وویل: "لمر به زموږ او به راوچې او ژوند به مو له ګواښ سره مخ کړي. "

په تېرو پنځو کلونو کې د افغانستان په سوېل لوېدیځه وچه دښته کې ۴۸،۰۰۰ نوې کورونه جوړ شوي دي. دغه د نیم میلیون په شاوخوا کې نفوس د کور جوړولو ملا ماتوونکو او سختو کارونو دغه راز زیات لګښت ترڅنګ د: کرنې لپاره د ځمکې هوارولو او پاکولو، د وچې دښتې له خاورو او خټو د کورونو جوړولو، او تر ټولو مهمه دا چې اوبو ته د لاسرسي په موخه د څاه ګانو کېندلو او د استوګنې په سیمه د یادې دښتې بدلولو لپاره نوموړې سیمې ته مهاجرت کړی دی. د هلمند، نیمروز او فراه دښتو ته د دغو نویو کډوالو په راتلو سره یې نفوس ۱.۵ میلیونو ته لوړ شو، چې له ۲۰۰۳ مېلادي کال را په دېخوا په یاده سیمه کې په ورته ډول ژوند پرمخ وړي او د طالبانو واکمنۍ له رنګېدو اووه کاله وروسته یې په ۲۰۰۸ مېلادي کال کې په یاده سیمه کې ژوند پیل کړ.




*لومړی انځور: یاد انځور د هلمند دښتې په اړوند سیمو کې جاري ځای پر ځای کېدل په ډاګه کوي.*

دغه ۱.۵ میلیونه وګړي په رسمي راپورونو کې نه دي مستند شوي. د افغانستان د نورو ولایتونو د نفوسو په پرتلې دا لوی شمېر وګړي چې په یاده کرنیزه دښته کې ژوند کوي، حتی د احصائیې او معلوماتو ملي ادارې په نفوس شمېرنه کې نه دي په ډاګه شوي. یاد وګړي هېڅ ډول عامه خدمتونو لکه ښوونځیو او کلنیکونو ته لاسرسی نه لري، دغه راز د رایې د ورکړې له حق او د ژوند له لومړنیو اړتیاوو محروم دي او د ملي او نړیوالو سازمانونو له لوري په ترسره شویو سروې ګانو او نظرپوښتنو کې د دوی نظریات او د ژوند لارې چارې نه دي منعکس شوي.

دا هغه وګړي، دي چې فکر کوي مجبور دي څو د حکومت، نړیوالو تمویلوونکو او پراختیایي پروژو مرستو ته لاس ترزنې کښېنني، ځکه د دوی په باور یاد بنسټونه له دوی سره په مرسته او لاسنیوي کې پاتې راغلي او له افغان حکومت سره یې واټن موندلای دی. له دې سره سره، د نوموړې سیمې او سېدونکي هغه خلک دي چې د ملي او نړیوال بازار په تحرک کې یې ونډه لرلې ده او د ټکنالوژۍ په ډګر کې یې له نوښتونو ملاتړ کړی، د کرنیزو محصولاتو په وده کې یې خپل رول اداء کړی او په هغو پروسو کې یې د ونډې اخېستو هڅه کړې چې یاد وګړي یې د غیرقانوني مخدره توکو د کښت او تولید په لومړی کرښه کې اچولي دي.

په داسې حال کې چې دا په خپله یوه ځانګړې ورتیا او نوښت دی چې په یوه داسې وچه دښته کې د اوسېدو امکانات برابر شي؛ مګر د ټکنالوژۍ نامحدوده کارونه به د دې لامل شي څو د دوی ژوند ته ګواښ پېښ کړي او مجبور شي چې د ژوند تېرولو لپاره نوې لارې چارې او ځایونه پیدا کړي. دا چې یاد ۱.۵ میلیوني نفوس تر ځمکې لاندې اوبیزې سرچینې کاروي او د تخلیې په حال کې یې دي کومې چې د دوی د ژوند د بقاء یوازېنۍ سرچینه ده، دلته دا له وخت سره تړلې پوښتنه ده، چې باید څه ترسره شي مخکې له دې چې یادې سرچینې وچې شي.

## وچه دښته پر حاصلخیزه بدلول

د طالبانو رژیم له ړنګېدو وروسته خلک په دې هڅه کې شول څو د افغانستان سوېل لوېدیځو دښتو ته پناه یوسي او د ملکیت ادعاء یې وکړي. په یادو دښتو کې د اوبو لوړېیو څاګانو له کېندلو وروسته، یو زیات شمېر وګړي په دې هڅه کې شول څو تر ۱۳۰ مترو پورې د ژورو څاګانو په کېندلو او له پاکستان او چین څخه د راوارد شویو ډیزلي جنراتورونو او واټرپمونو په نصبولو سره یاده سیمه له یوې وچې دښتې په کرنیزه محصولاتي ځمکه بدله کړي.



۲ انځور: د هلمند په دښتو کې له هوا څخه د ژورو څاګانو اخېستل شوی انځور.


په يادو سيمو کې ژوند کول ډېر ستونزمن و، د حکومتي او خصوصي دوارو خدماتو نشتوالی د دې لامل شو، څو په يادو وچو دښتو کې استوګن وګړي له خپلو هغو سيمو سره په تماس کې اوسي، چې مهاجرت يې ترې کړی. د نږدې ولسوالی د مرکز اړوند يا هم د بغرا کانال بازار ته د تګ په موخه موټرسايکل ته اړتيا وه، هلته دوی کولای شول څو خوراکي توکي، درمل او کرنيز وسايل راونيسي.

د کور مېرمنو لپاره په يادو سيمو کې ژوند کول بيا په ځانګړې ډول ډېر ستونزمن و. ځکه د خپلو پراخ نفوسه کورنيو له شبکې جلا شوې وې او په وچو دښتو کې له کار کولو پرته له کور د باندې نه شوې وتلای. په يادو دښتو کې د دوی د ماشومانو لپاره ښوونځي نشته او د ناروغۍ پرمهال هېڅ ډول روغتيايي خدمتونو ته لاسرسی نه لري. په صحرا کې د دوی ټولنيز ژوند محدود شوی او دوی نه شي کولای د کانال سيمې په څېر د خپلو خپلوانو کورونو يا هم سيمه ييزو بازاراونو ته لاړې شي. د دوی له ډلې زياترو يې ويلي، چې نه شي کولای حتی د خپلو نږدو خپلوانو(مور او پلار، او خويندو يا ورونړو ) په جنازو کې ګډون وکړي. دوی له يوازېتوب او خپګان کړيږي او حتی د ځان وژنو له ېبلګو يادونه کوي.

د ژوندانه له دغو سختو شرايطو سره سره، په يادو دښتو کې د استوګنو وګړو شمېر مخ پر زياتېدو دی. په واقعيت کې له ۲۰۰۸ مېلادي کال راوروسته يو زيات شمېر بزګران يادو دښتو ته کډوال شوي او هلته ځای پر ځای شوي دي؛ لاملونه يې د نفوسو پراختيا، د ناټو ځواکونو او طالبانو ترمنځ جګړې دغه راز د افغان حکومت او متحدينو له لوري د کوکنارو د کښت مخنيوی دی. په يادو دښتو کې د نفوسو ځای پر ځای کېدو او د کوکنارو کښت زياتوالي ياده دښته پر يوه حاصلخيزه سيمه بدله کړه.

بزګران د ناقانونه کوکنارو د کښت لپاره د ځمکنې مساعدوالي له کبله هلته وکوچېدل. که چېرې د کوکنارو دا کښت نه وای ياده سيمه به له خلکو او کرنې همداسې خالي پاتې وای. مګر د کوکنارو ناقانونه کښت بزګرانو ته د ژورو څاګانو کېندلو، د کښت نويو ځمکو ابادولو، کورونو جوړولو او خوراکي توکو دغه راز د ژوند تېرولو لپاره فرصت او پانګه دواړه په لاس ورکړل.

په ۲۰۱۲ مېلادي کال کې نږدې ۱۰۰،۰۰۰ هکټاره ځمکه تر کښت لاندې وه، چې پر زياتره برخه يې کوکنار کرل شوي وو. له يو ميليون د کمو وګړو نفوس په لرلو سره، چې زياترو يې د کلونو کلونو لپاره په کمه اندازه کوکنار درلودل، يادې دښتې په غوړېدا پيل وکړ. په ياده سيمه کې د پېردونکو په زياتوالي او د دوی غوښتنو ته د لاسرسي په موخه د بازارونه په رامنځ ته کېدو سره د هلمند مرکز لښکرګاه، دلارام او په سوېل کې نورو بازاراونو ته سفرونو راکم شول. د توکو او خدمتونو په زياتوالي سره بزګرانو هم په خپل کښت او توليد کې د زياتوالي هڅه وکړه، ځکه دوی کولای شول خپلو کارګرانو ته د خوراکي توکو بندوبست وکړي او په دې سره يو زيات شمېر کوکنار توليد کړي.




درېيم انځور: د انځور تحلیل د افغانستان په سوېل لوېدیځه دښته کې د کرنیزې ځمکې ډراماتیکه غوړېدا په ډاګه کوي.

## د ځمکې تل اوبو تخلیه

له دې سره سره پر محیط هم د فشارونو د زیاتوالي نښې تر سترګو شوي دي. د کوکنارو یو ازښی کښت او د بوټو کمزورتیا د کرنیزو حاصلاتو د کمزورتیا لامل شو. په ۲۰۱۵ مېلادي کال کې د څلورو پرله پسې کلونو لپاره بزګران د کم حاصل له کبله کړېدل، حتی تر دې چې د ترلاسه شوي حاصل لګښت د پلور له ارزښت نه ډېر زیات لوړ و. له دې کبله بزګرانو یاده سیمه پرېښوده او په دې هیله د نوې ځمکې په لټه کې شول، چې ښایي ګټوره او له دې ډېر حاصل ورکړي.

مګر هغو خلکو چې ځمکه یې رانیولې وه، لا زیات مقاومت ته مخه کړه. د افغانستان په سوېل لوېدیځ کې د کښت لپاره د مناسبو ځمکو له سخت کمښت څخه د خبرتیا دغه راز په هغو سیمو کې د ژوند کولو پرېکړې په ترڅ کې چې په سختۍ یې ابادې کړې وې، بزګران په دې هیله پاتې شول او ژوند کولو ته یې ادامه ورکړه، چې ښایي یوه ورځ یې کښت ښه والی ومومي. د محصولاتو د کمښت او د ډیزلو قیمتونو په لوړېدو دغه راز پرمختللو بازارانو ته په لاسرسي سره بزګرانو له لمریزې ټکنالوژۍ څخه ګټې اخېستنې ته مخه کړه.


د یو څو ازمایښتي بېلګو له نصب وروسته، زیاترو بزګرانو د اوبو راویستلو پمپونو لپاره له لمریزې برېښنا ګټې اخېستنې ته مخه کړه. د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۸ کلونو ترمنځ په سوېل لوېدیځ کې د ژورو څاګانو څخه د اوبو په راویستلو کې له لمریزې برېښنا د ګټې اخېستنې شمېر هر کال دوه برابره زیات شوی دی. په ۲۰۱۹ مېلادي کال کې په ۹۰۰ کیلو متره مربع ځمکه کې له ژورو څاګانو څخه د اوبو په راویستلو کې د لمریزې برېښنا شمېر ۲۷۰۰۰ و، په داسې حال کې چې یاده شمېره په ۲۰۱۲ مېلادي کال کې له ۱۴۰۰۰ زیاته نه وه.



ځلورم انځور: یو بزګر په هلمند ولایت کې د خپلې لمریزې برېښنا سیستم او د اوبو ذخیره ازمایي.

له لمریزې برېښنا د ګټې اخېستنې په ترڅ کې پر چاپېریال اغېزې مخ پر زیاتېدو دي. په تېرو کلونو کې چې کله بزګرانو له ډیزلي پمپونو ګټه اخېسته، اټکل دا و چې د ځمکې تل اوبه هر کال یو ازې یو متر کښته ځي. مګر دا چې اوس په یاده سیمه کې د لمریزې برېښنا په رامنځ ته کېدو سره کرنه د ودې په حال کې ده او د استوګنو وګړو شمېر زیات شوی دی، بزګران وایي چې تر ځمکې لاندې اوبه هر کال د ۳ مترو په شاوخوا کې کښته ځي.

د برېښنايي سیستم دا ډول څاګانې چې هر یو یې نېږدې ۱۲۰۰ متره مربع ذخیرې لري، یو زیات شمېر اوبه یې د تبخیر په پایله کې ضایع کېږي. پر لمریزه برېښنا د مکررو لګښتونو د نشتوالي له کبله په بزګرانو کې دا انګېره ډېره کمه ده، څو له دې ارزښتناکې سرچینې په اغېزناک ډول ګټه پورته کړي او ښه مدیریت ته یې پاملرنه وکړي. پردې سربېره، په دې وروستیو کې ځینو بزګرانو د لمریزې او ډیزلي برېښنا له دواړو سیستمونو څخه ګټې اخېستنې ته مخه کړې ده، چې په ترڅ کې یې دوی کولای شي ۲۴ ساعته اوبه راوباسي او وکاروي. دا کار د یادو دښتو غیرمنظم وضعیت او تر ځمکې لاندې اوبو په تړاو ګڼ شمېر نورې اندېښنې راپورته کوي.




پنځم انځور: د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۹ کلونو ترمنځ د افغانستان په سوېل لوېدیځ کې د
لمریزې برېښنا اوبو سیستمونو لپاره د کارېدونکو ذخیرو د ودې څمکنی تحلیل.

## د مجبوریت له کبله د دښتې پر ښو دو ته اړ کېدل

په سیمه کې استوګن بزګران د خپلې راتلونکې په تړاو اندېښنه په ډاګه کوي. د ځمکې لاندې اوبو سطحې په اندازه کې له کمښت د خبرتیا په ترڅ کې زیاتره بزګران پر هغو ګواښونو خبرې کوي، چې لمریزې برېښنا سیستم یې د دوی ژوند ته پېښوي. څرنګه چې د بکوا په دښته کې یو بزګر په دې اړه خپله اندېښنه داسې څرګنده کړې ده: « د لمریزې برېښنا سیستم به په دې سیمه کې زموږ اوبه راوچې او ژوند کول به پای ته ورسوي.» دغه راز په سیمه کې مخ پر وړاندې په زیاتېدونکې توګه د کورنیو مهاجرتونو نښې له پخوا تر سترګو کېږي، چې بزګران له خپلو کورنیو سره یو ځای له یوې سیمې بلې سیمې ته کوچیږي په دې هیله چې بل چېرته به یو څه اندازه غوره حاصلخېزه ځمکه پیداکړي او د ژوندانه لومړنۍ اړتیاوې به پرې تاءمین کړای شي.


داسې ښکاري، چې دا یوه نه پای ته رسېدونکې لوبه ده، ځکه داسې مشخص کاري مېکانېزم نشته څو په یاد نازک چاپېریال کې د ځمکې او اوبو له نامنظمې ګټې اخېستنې مخنیوی وکړي. دا یوازې په وخت پورې تړلې پوښتنه ده، چې ښایي دا سیمه بېرته پخوانۍ تشې دښتې ته وروګرځي.

په دغه کرنیزه دښته کې د استوګنو **۱.۵** میلیونه وګړو د ژوندانه د تاءمین لارو چارو له لاسه ورکول به له سوېل لوېدیځ ورهاخوا پر نورو سیمو ډېرې اغېزې ولري. د یادو وګړو مهاجرت به په افغانستان کې په کور د ننه ښارونو، ګاونډیو هېوادونو – ایران، پاکستان او ښایي پر اروپا هم اغېزې ولري.

د لنډمهال لپاره یو څه ډاډ شته، ځکه دا ستونزمنه ده چې ټول استوګن وګړي یاده سیمه په یو ځل پرېږدي. له یادې سیمې لومړني  کوچېدونکي وګړي به هغه خلک وي، چې هلته ځمکه نه لري – په ځانګړې توګه بېوزله او آسیب پذیره خلک: ونډه وال او سوداګری لرونکي بزګران او د هغوی کورنۍ؛ چې بل چېرته ډېر کم فرصتونه لري. اټکلونه په ډاګه کوي، چې دا قشر د یو میلیون وګړو درې پر څلور برخه جوړوي. په بل ګام کې به هغه خلک وي، چې د امکان تر بریده کولای شي په خپلو ځمکو او سیمو کې پاتې شي.

دلته پوښتنه دا ده، چې دا خلک به چېرته ځي؟ په ډېر محصول تولیدوونکو ځمکو کې د استوګنو ځایونه کم او د نفوسو تراکم زیات دی، دغه راز د ځمکې حاصل هم کم دی. نو باید دوی څه وکړي؟ د دوی لپاره یوازینۍ لاره دا ده، چې د هلمند مرکز لښکرګاه، کندهار یا هم کابل ته لاړ شي، مګر په یادو ښارونو کې د نفوسو تراکم مخکې له مخکې زیات، د ژوندانه لګښتونه خورا لوړ او کاري فرصتونه د ۲۰۱۲ مېلادي کال په پرتلې، چې اقتصادي څرخ او وده د اوسمهال په پرتلې ښه وه؛ هم کم دي. په خپله کابل ښار هم د ځمکې لاندې اوبو په کچه کې د پام وړ کمښت شاهد دی، چې په پایله کې یې په ټول ښار کې د څښلو اوبو ته لاسرسی هم ستونزمن شوی دی.

د صحرا دغو **۱.۵** میلیونو وګړو ژوندانه ته پېښ ګواښ او د افغانستان په نورو ښارونو کې محدودو امکاناتو ته په کتو دا واقعي خطر شته، چې د دوی له ډلې یو شمېر یې پر اوږدمهاله لارو چارو فکر وکړي او د نورو په څېر د ایران او ترکیې له لارې اروپایي هېوادونو ته د اوږده او خطرناکه مهاجرت او سفر پر لارو لاړ شي. د دغو دښتو اوسېدونکي په دې پوهیږي، چې په اوږدمهال کې هلته د دوی استوګنه ستونزمنه او راتلونکې یې تیاره ده. دوی واقعاً کومه د غوراوي لار لري؟




شېږم انځور: د جغرافیاوي انځور تحلیل د افغانستان په سوېل لوېدیځه دښته کې د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۹ مېلادي کلونو ترمنځ د نویو کورونو جوړلو په شمېر کې وده په ډاګه کوي.

## یوه پېچلې ستونزه چې پر ټولو ټولنو او جغرافیاوو اغېزې لري

د اوبو او ځمکې کمښت ستونزه له جګړې، بې ځایه کېدو او د ژوندانه له تامین سره نه شلېدونکې اړیکه لري. د اوبو او ځمکې ځو اړخیز تداخل د اروپايي اتحادیې په تمویل د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری په وروستیو څېړنو کې په ښه توګه په ډاګه شوې ده، چې تر ټولو وروستۍ څېړنه یې «د هلمند دخوړو زون» تر سرلیک لاندې خپره شوې ده او لاندې برخې په کې شاملې دي: یوه خیالی بریا، د کابل په اوبیزه حوزه کې د ځمکې پرمخ – ځمکې لاندې اوبو تعامل، او آیا افغان دولت کولای شي په بریالیتوب سره د بومي وګړو او مهاجرینو ترمنځ د شخړې په هواري کې مداخله وکړي؟

تر نن پورې هېڅ داسې عملي مېکانېزم نشته ځو د ځمکې او اوبو له نامنظم او ناپایښت لرونکي لګښت مخنیوی وکړي یا دا چې د کډوالۍ اغېزې یې له منځه یوسي. په داسې حال کې چې له ځمکو او اوبو نامنظمه او نه پایښت لرونکې ګټه اخښتنه کولای شي د مختلفو ټولنو پر ژوند بېلا بېلې اغېزې ولري. په دې کې هغه **۱.۵** میلیونه وګړي هم شاملېږي، چې اوسمهال په کرنیزه دښته کې اوسېږي او کوکنار کري؛ د کابل په ښېر د ښاري سیمو وګړي چېرته چې د نفوسو په شمېر کې بې مخینې او چټک زیاتوالی د ځمکې لاندې اوبو په پراخه کچه مصرف او کمښت لامل ګرځېدلای او د بومي وګړو او کډوالو ترمنځ له شخړې ډکې اړیکې د موضوع بل اړخ دی، چې د خوراکي اړتیاوو او ژوندانه د تامین لپاره د مهمې کرنیزې ځمکې او اوبو سرچینو د خوندیتوب هڅو پر سر رامنځ ته کېږي.

تر کومې کچې چې د اوبو زېرمې له منځه ځي، په هماغه اندازه د وقایوي اقداماتو ترسره کولو په برخه کې د افغان دولت پر اوږو بار زیاتېږي. زیاتره افغانان له افغان دولت تمه لري او غواړي ځو د اوبو کمښت ځو اړخیزه ستونزه هواره کړي، په ځانګړې ډول یاده ستونزه د کډوالۍ، ژوندانه د تامین لارو چارو له لاسه ورکولو، د اوبیزو ځمکو د ارزښت کموالي لامل ګرځي او د ژوندانه پرمخ وړل ګواښي دغه راز د محصولاتو پایښت راکموي او د هغو خلکو روغتیا ګواښي، چې ناپاکې اوبو لګوي یا د ځښلو پاکو اوبو ته کم لاسرسی لري. هغه عوامل چې د دغو ننګونو د زیاتوالي لامل ګرځي، د دولتي وړتیا کمزورتیا، فساد، سازمان شوې او فردي جرایم او د افغان ځواکونو او طالبانو ترمنځ روانه جګړه ده. د دغو ننګونو تداخلي ماهیت هم دا په ډاګه کوي، چې ولې هغه ساده لارې چارې لکه د کرنې بدیل له نقصان سره مخ دي. داسې چې یادې تګلارې په دې کې پاتې راغلې ځو هغو پروسو او سیستمونو ته هرکلی ووایي، چې د هغو عواملو په رامنځ ته کولو او تعامل کې مرسته کوي په یو نه یو ډول یو له بل سره تړاو لري یا هم ځو اړخیزه بڼه لري.

د هغو سیمو په ګاونډ کې هم د اوبو وچېدو اغېزې احساسېدلای شي، چې تر ځمکې لاندې یا هم د ځمکې پرمخ اوبو ته یې لاسرسی کمېږي او وچیږي. د وګړو کوچېدو او په بله سیمه کې د ځای پر ځای کېدو، کډوالۍ، او په کلیوالي یا هم ښاري سیمو کې د ځمکې پر سر یا هم تر ځمکې لاندې اوبو پر سر د رقابتونو په ګډون دغه ډول پراخ شموله ننګونو ته د دولت د ځواب ویلو څرنګوالی د دولت پر مشروعیت هم خپلې اغېزې لري. پېچلو او ځو اړخیزو ستونزو ته لنډمهاله ځواب ویل او د لنډمهاله حل لارو وړاندې کول نه یوازې دا چې بسنه نه کوي، بلکې په راتلونکې د نورو ستونزو د زېږېدو لامل هم ګرځي. شته یا هم په راتلونکې کې د راپورته کېدونکو ستونزو واقعي خطر ته په کتو دا ایجابوي، چې افغان دولت او نړیوال متحدین یې په دې برخه کې ستراتیژیک لیدلوري ولري. د دغه ستراتیژیک لیدلوري د چمتو کولو لپاره اړتیا ده، چې غوره منابع ورته په پام کې ونیول شي، د شواهدو له مخې چمتو شي او شرایطو ته په کتو تدوین شي، نه دا چې د مصنوعي مهالوېش له مخې دا کار ترسره شي، په ځانګړې توګه په داسې شرایطو او حالاتو کې چې افغانستان له مهمو سیاسي، امنیتي او چاپېریالي ابهاماتو سره مخ دی.


## حل لاره څه ده؟

په اوسنیو حالاتو کې چې افغانستان له یوې خوا د سولې له ځنډېدلې پروسې سره مخ دی او بل خوا په حکومت کې د ننه سیاسي بحران رامنځ ته شوی دغه راز د کرونا نړیواله وبا چې د افغان وګړو روغتیا ګواښي او پردې سربېره په راتلونکې کې د مرستو کمښت له کبله دا ستونزمنه ده څو یوه روښانه لار په ډاګه شي چې په ترڅ کې یې د افغانستان په سوېل لوېدیځه دښته کې د استوګنو وګړو د چاپېریالي بحران ستونزه هواره شي.

لومړی، ښکاره ده چې یو داسې خبروونکي مېکانېزم ته اړتیا ده چې په یاده کرنیزه دښته کې د وګړو په وړاندې مخ پروډې ګواښ او د ځمکې تل اوبو کمښت وارزوي. دا کار په لوړه کچه د امنیتي ګواښونو له شتون سره سره د لوړې کچې لید آلې په وسیله شونی دی، په ځانګړې ډول د رادار له لارې، چې ترځمکې لاندې اوبو کې د تغییراتو په اندازه کولو کې کارول کېدای شي او په ښه ډول پر ځمکه تمرکز کولای شي. داسې ډول مېکانېزم لږ تر لږه دا په ډاګه کولای شي چې تر ځمکې لاندې اوبه به کله ختمې شي او په یاده سیمه کې پر استوګنو او له سیمې ورهاخوا وګړو به یې اغېزې څه وي.

دویم، اړتیاوو ته په پام سره باید پردې فکر وشي چې آیا په فراه او نیمروز ولایتونو کې د بخش آباد او کمال خان بندونو څخه د خړوبېدونکو ځمکو له ډلې یوه اندازه یې د یادو سیمو وګړو ته ورکول کېدای شي او که نه؟ ښایي دا چاره اسانه نه وي او اړتیا ده څو ډاډ ترلاسه شي چې د کرنیزو ځمکو ترڅنګ باید له دوی څخه په مالي او بازارموندنې برخو کې هم ملاتړ وشي څو وکولای شي د کوکنارو کښت پرځای د ژوندانه د تاءمین نورو لارو چارو ته مخه کړي او پر ورکول کېدونکو ځمکو کوکنار ونه کري.

درېیم، دا تر ټولو ډېره مهمه ده چې پراختیایي پروګرامونه په ځانګړې ډول هغه پراختیایي پروګرامونه چې په کلیوالي سیمو کې پلې کېږي په سیستماتیک ډول وارزول شي څو ډاډ ترلاسه شي چې د اقتصادي ودې یا هم د کوکنارو کښت د مخنیوي لپاره د دوی هڅې د کلیوالي سیمو اوسېدونکو د بېوزلۍ په بیه نه تمامیږي. همدا ډول پروګرامونه دي چې د افغانستان په سوېل لوېدیځ کې دښتو ته د وګړو د کوچېدو او هلته د کوکنارو د کښت زیاتوالي لامل ګرځېدلي دي، یعنې هغه وده چې د هر هغه کس له لوري په بشپړه توګه د اټکل وړ وه، چې د یادې سیمې یا هم نفوسو په تړاو یې لږ معلومات او پېژندنه هم درلوده، حتی که د خطر تر ټولو ابتدایي ارزونه یې هم ترسره کړې وي.



## د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېواله ده چې د دغې څېړنې د کاروونکو نظرونه واوري. که تاسو زموږ د خپرونو یو دوامداره لوستونکي یاست، د AREU لیکچر یا ورکشاپ کې مو ګډون کړی، کتابتون یې کاروئ، یا یوازې په دې وروستیو کې له دغه ادارې سره بلد شوي یاست، ستاسو نظرونه او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري. دغه نظرونه موږ سره مرسته کولی شي چې خپلې موخې په لا ښه ډول لاسته راوړو او د څېړنې په اړه خپلې تګلارې او د پایلو د شریکولو طریقې و ارزوو. د نظرونو شریکولو تر ټولو اسانه لار موږ ته ایمیل کول دي: areu@areu.org.af

یا کولی شئ موږ ته زنګ ووهئ: **۰۰۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸**. تاسو چې هر څه غواړئ موږ ته یې ویلی شئ، خو په ممکنه ډول یو څه ګټور مالومات دا دي:

- تاسو له AREU سره څنګه اړیکه نیسئ (یعنې د خپرونو، غونډو یا نورو لارو)؟
- تاسو د AREU له څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ؟
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ؟
- تاسو د څېړنو بریښنایی که چاپ شوی بڼه کاروئ؟
- خپرونې څنګه کولی شي تاسو ته مالومات په لا ښه ډول وړاندې کړي؟
- زموږ د څېړنې د بهیرونو یا پایلو په اړه ستاسو نظرونه؟
- هغه برخې یا موضوعګانې چې تاسو یې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ؟
- د AREU هغه خپرونې یا فعالیتونه/غونډې چې ستاسو ډېرې خوښېږي؟
- ستاسو په اند موږ په کومو برخو کې خپل کار ښه کولی شو؟
- ستاسو د خوښې یا لېوالتیا ډګر، دنده یا څېړنه، او دغه راز موقعیت؟



د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې ټولې خپرونې د دغې ادارې له کورپاڼې ( www.areu.org.af ) څخه ترلاسه کولای شئ.

په کابل کې د دغه ادارې په دفتر کې چاپ شوې کاپیانې هم موجودې دي.


تیلفون: +۹۳ (۰) ۷۹۹۲۰۸۵۴۸
برېښنالیک: publications@areu.org.af
ویب پاڼه: www.areu.org.af



ISBN 978-9936-641-96-9